(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ* رواه ابوداود

اې زما مولا! له غم او اندېښنې نه تا ته پناه دروړم او له ناتوانۍ او کسالت نه پناه دروړم، او له بې زړه توب او بخل نه پناه دروړم، او د پور له غلبې او د خلکو له سلطې نه پناه دروړم.

رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ*

ابراهيم:۴۱

باري خدایه! ما ته بخښنه وکړې، او زما مور پلار ته او مؤمنانو ته د حساب قايمېدو په ورځ.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ أَسْأَلُكَ أَلَّا تَدَعَ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا لِي ثُمَّ يَسْأَلُ اللَّهَ مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ مَا شَاءَ فَإِنَّهُ يُقَدَّرُ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ*

اې زما مولا! ستا د رحمت د موجباتو غوښتنه درنه کوم او ستا د بخښنې د عزايمو او له هرې ګناه نه د سلامتيا او د هرې ښېګڼې لاس ته راوړنه. اې باري خدايه! هيڅ ګناه مې د بخښنې نه پرته مه پرېږده او هېڅ اندېښنه مې د پای ته رسولو نه پرته او د دنيا او آخرت هېڅ حاجت مې له پوره کېدو نه پرته پرې نږدې، اې تر هرمهربان نه زيات مهربانه!

